# طبيعي سيمې

ځمکه د شمسي نظام له سيارو څخه يوازينۍ پېژندل شوې سياره ده چې په هوا ، ځمکه او سمندر کې ژوند امکان لري. دا ځايونه د بايوسفير په نامه يادېږي. بايوسفر په مختلفو بايومونو ويشل کېږي.بايومونه د يوخاص اقليم لرونکې او مشخصه طبيعي سيمې ته وايي چې د نباتاتو ژوند، باران او تودوخې پکی يو شان وي. بايومونه په لويو ساحو او ډيرو قارو غزيږی.

دا متن په ځمکه کې د ځينې بايومونو په اړه دی.

# ټندرا

ټندرا لوی ساحې دي چې ځمکې يی د کال په اوږدو کې منجمده وي. يوازې د ځمکې پورتنۍ طبقه په اوړي کې ګرميږي. ونې په تونډرا کې وده نه کوي. ډيری ټندرا ساحی په روسيه ، کاناډا او الاسکا کې موقعيت لري.



*Foto: Tundra i Nord-Russland (Adobe Stock, annatronova).*

# صحرا

بیدیا ،دښته یا صحرا ، وچو سیمو ته ویل کیږي جی  ډیری ډبری او شګی لري. صحارا د ځمکی  په سر ترټولو لویه دښته  ده.



*Foto: Saharaørkenen i Nord-Afrika (Shutterstock, Gaper).*

# ساوانا

ساوانا د حاره یا تودو سیمو په اوږدو کې د جګو وابنو او متفرقه ونو درلودونکی ساحه ده. ډیری لوی سوانا سیمی په افریقا کې موقعیت لري.



*Foto: Savanne (Adobe Stock, 25ehaag6).*

# جلګه یا دښتې

جلګه یا دښته هغه ازاده سیمه ده  چې ځنګلونه په کې نه شته. د جلګو خاوره ډیره قوی ده او له دې کبله په نړۍ کې د جلګو لویې ساحې د کرنې لپاره کارول کیږي. جلګی یا دښتې په معتدلو سیمو لکه اسیا، شمالی او سویلي امریکا کې پیدا کیږي.



*Foto: Steppelandskap i Tyrkia (Adobe Stock, Engin Korkmaz).*

# باراني ځنګلونه

باراني ځنګلونه هغه حاصل خېزه ځنګلونه دي چې عموماً د استواکرښې سره د ځمکی چارچاپیر خپریږي.. امازون په سویلي امریکا کې بارانی ځنګل دی.



*Foto: Regnskog i Sørøst-Asia (Adobe Stock, quickshooting).*

# سم ځواب غوره کړئ.

1. هغه سیمه  چی د نباتاتو ژوند، حرارت او باران يې يو شان دی او بدلون نه مومي څه نوميږي ؟

الف. بایومونه                    ب. بایوسفر                    ج. ټوندرا

2. هغه لوی حاصل خیزه ځنګل چې د استوا کرښې ته نږدې د ځمکی چارچاپیر غزيږی، څه نو ميږي؟

الف. ستېپ                    ب ټندرا                    ج. بارانی ځنګل

3. هغه لویه او وچه سیمه چې ډیری ډبرې او شګې لري څه نوميږي؟

الف.صحرا                    ب. جلګه                    ج. ساوانا